SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال بو پنځوسمه گڼه پرله پسي (۳۳۸) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ربیع الثانی (۲۰)
د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمیاشتی(۱) د ۲۰۰۰میلادي کال د جولای (۲۲)

د ریاست الوزرا محترم مرستیال له BBC سره په مرکه کی :

د پاکستان او افغانستان تر منځ ډیر نږدی او ښه روابط موجود د ي

د افغانستان اسلامی امارت د کونړ ولایت په مرکز او ولسوالیو او ختیځ او مرکزی نورستان باندی پوره حاکمیت لری

موږ له خپلو مخالفینو سره مشکلات د خبرو له لاری حل کوو

شریعت : درنو لوستونکو !

دریاست الوزرا ، اقتصادي مرستیال او د ختیځ زون تنظیمیه رئیس محترم مولوی عبدالکبیر د هیواد په ختیځ زون کی د جاری وضع په باب د BBC راډیو سره په مرکه کی داسی وویل : د دوو لسیزو په موده کی د پاکستان او د افغانستان د مجاهدینو د حکومت په وختو کی او بیا بالخصوص د افغانستان د اسلامی امارت په وخت کی ډیر نږدی تعلقات او ښه روابط دی ، زه فکر نه کوم چی پاکستان به داسی خلکو ته موقع ورکړی چی د اسلامی امارت مخالفین وی او د پاکستان له خاوری نه د افغانستان د اسلامی امارت په خلاف پروگرامونه جوړ کړی ځکه چی د افغانستان اسلامی امارت دغه راز خلکو ته اجازه نه ورکوی چی هغه د پاکستان په خلاف له دی ځایه ٤ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

محترم معین وزارت آب و برق در مصاحبه با «شریعت» :

به اساس پروتوکول منعقده بین ا.ا.ا و دولت ترکمنستان :

مناطق جنوب غرب کشور از نعمت برق مستفید خواهد شد

روي همین منظور یك شرکت مشترك در شهر هاي هرات و فارياب رسماً ایجاد و به کار آغاز نموده است

قرار است در روز هاي نزدیك پروتوکول شبکه برق نیمروز با دولت ایران نیز صورت گیرد

علت پرچاوي روزانه برق در شهر کابل کمبود آب در بند هاي سروبی - نغلو میباشد

اخیراً با سعي و تلاش بیدریغ، مسؤولین وزارت آب و برق ا.ا.ا در جهت تأمین و گسترش شبکه هاي برقي در سطح ولایات کشور متوصل به یك سلسله افتخارات ارزنده و اساسي گردیده و در صدد این اند تا همچو شبکه ها را در سطح ولایات کشور هر چه بیشتر وسعت و گسترش بدهند تا باشد هموطنان نیازمند ما از نعمت تنویر برق حتي در سطح قرا ، و علاقه داري هاي دور دست و سرحدي کشور عندالموقع مستفید گردند.

خبرنگار ما در رابطه به آخرین انکشافات تخنیکي آن وزارت مصاحبه را با محترم ملا عبدالهادي اخند معین وزارت متذکره انجام داده است که خوانش آن براي هر یك از شما عزیز دوستان خالي از آگاهي نخواهد بود :

در آغاز محترم معین وزارت آب و برق برنامه هاي جدید کاري و دست آورد هاي اخیر آن وزارت را اینگونه توضیح داد :

به منظور تأمین جریان برق در صفحات غربي ، جنوب غربي و شمالي کشور اخیراً پروتوکول رسمي في بین ا.ا.ا و دولت ترکمنستان عقد گردیده است.

به اساس این پروتوکول قرار است ولایات : هرات، فراه، کندهار، هلمند، غور، فاریاب و شبرغان در آینده هاي نزدیك از نعمت برق مستفید گردند به ۲ مخ

ششصد خانواده از انرژي برق مستفید گردیدند

با نصب و منتاژ یك پایه جنراتور ششصد خانواده در قریه پیروایي ولسوالي الینگار ولایت لغمان از انرژي برق مستفید گردیدند

کابل - باختر

جنراتور متذکره که بمساعدت محترم سردار محمد دقیق ، محترم غلام میا احمد و محترم حاجي عبدالخلیل سه تن از اهالي قریه پیروایي آنولسوالي تهیه گردیده است با نصب و منتاژ آن ششصد خانواده در قریه متذکره از انرژي برق مستفید گردیدند .

محترم مولوي احمد طه قادري قوماندان امنیه ولایت لغمان در حالیکه برخي از مسوولین ادارات امارتي ولسوالي الینگار بزرگان، موسفیدان و عده از اهالي شریف آن منطقه اشتراك داشتند در مورد اقدامات نافع امارت اسلامي در باز سازي مجدد کشور صحبت نموده از همکاري مردم در این استقامت ابراز خرسندي نمود.

د پلخمری دنساجی فابریکی په تولیداتو کی زیاتوالی راغلی

پلخمری - باختر

د پلخمری د افغان نساجی فابریکی د روان کال په لومړیو دریو میاشتو کی یو ملیون ځلوېښت زره او نهه سوه متره ټوکر تولید کړی دی.

د اسلامی امارت د ټینگښت او بریالیتوب له وخت څخه را پدیخوا د هیواد بیا جوړول او رغاول د اسلامی ٤ مخ

د ستونزو له منځه وړل او په اداری چارواکی همغږگی د تعلیمی سیمینارونو اساسی هدف دی

د اطلاعاتو اوکلتور محترم وزیر

د ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور د رئیسانو او د هیواد د مرکز او ولایتونو دنشراتی موسسو او ارگانونو د چارواکو هغه تعلیمی او روزنیز سیمینار چی د مسلکی پوهی د سطحی د لوړولو او په فرهنگی او نشراتی برخو کی د نیمگړتیاوو او نواقصو د لری کولو په مقصد څه موده مخکی د شریعت غږ راډیو په تالار کی ص ٤

مساعدت هاي جمعیت افغاني سره میاشت توزیع گردید

کابل - باختر

سلسله توزیع مساعدتهاي بشر دوستانه جمعیت هاي افغاني سره میاشت به اهالي مستدین ولایت زابل که در اثر خشکسالي خساره مند گردیده اند ادامه دارد.

ص ٤

موسسه هبیتات با شاروالي کابل همکاري مي نماید

کابل - باختر :

موسسه هبیتات شاروالي کابل را درعرصه مالي و تخنیکي کمك قصیرالمدت مي نماید

محترم مولوي محمد قاسم ناصري معین ساختماني و سرپرست شاروالي کابل دیروز ضمن دیدار با مسوول موسسه هبیتات در کابل مشکلات مردم کابل را از ص ٤

له مخالفینو سره د مرستی په منظور :

روسي ، تاجکی او ایرانی مشترک هیأت پنجشیر ته ورسیده

کابل - باختر :

د اسلامی امارت له مخالفینو سره د پوځی مرستو د سمون او چټکتیا په مقصد د پوځی سلاکارانو هغه هیأت چی په ترکیب کی یی روسی ، تاجکستانی او ایرانی اتباع شامل دی د سه‌شنبی په ص ٤

در ولایت بامیان :

پروژه هاي اعماري زیادي تاسیس گردیده است

بعد از استقرار حاکمیت امارت اسلامي در ولایت بامیان گامهاي ارزشمندي در عرصه هاي اقتصادي و اجتماعي بر داشته شده است.

این مطلب را محترم مولوي حبیب الله شمشاد معاون ولایت بامیان ضمن ص ٤

در شهر شرن :

جنراتور دو صد کیلو وات فعال گردید

کابل - باختر :

با فعال شدن جنراتور دو صد کیلو وات بخشي از دواير امارتي و تعدادي از دکانها و منازل در شهر شرن مرکز ص ٤

په فلیپین کی :

آزادی غوښتونکو مسلمانانو ځلور یرغمل خوشی کړل

د فلیپین په جنوب کی د مسلمانو آزادی غوښتونکو یوی ډلی د ابو سیاف ډلی د چریکانو ځلورتنه مالیزیایی یرغمل خوشی کړل .

له مانیلا نه دخبری منابعو د رپوټونو له مخی دغه کسان د روان کال مارچ د میاشتی په ځلور مه نیټه له اولسو نورو کسانو سره یو ځای چی د هغو په جمله کی څو تنه دلویدیځ اتباع هم شامل وو په مالیزیا .پوری له مربوط ټاپو څخه تښتول شوی وو او دفلیپین په جنوب کی د سولو ټاپو ته چی د ازادی غوښتونکو په کنترول کی دی ٤ مخ

خشکسالي در مرکز و جنوب اسیا جان شصت ملیون انسان را تهدید میکند

خشك سال ي در مرکز و جنوب قاره آسیا جان بیش از شصت ملیون نفر را تهدید میکند. رئیس برنامه مواد غذایي سازمان ملل متحد گفت که بیشترین آثارخشکسالي در افغانستان، تاجکستان، هند و ایران مشاهده میشود رئیس برنامه مذکور گفت ص ٤

حربی ښوونځی به عنوان اولین کانون نظامی در کشور وسیعاً فعال میباشد

شریعت : هم اکنون ۲۵۰ تن از محصین نظامي ملبس با یونیفورم خاص مصروف آموزش تعلیمات حربي میباشند.

این مطلب را محترم مولوي محمد طاهر حلیمي قوماندان ص ٤

سیاحي که مي خواهد در پیاده گردشي ریکارد جهاني قایم کند

این سیاح مدت ۱۲ سال میشود که به سفرش آغاز نموده و تا حال از ۵۹ مملکت دیدن نموده است

شریعت : اخیراً یکتن سیاح هندي از طریق بندر آقینه اندخوي ولایت فاریاب از کشور ترکمنستان وارد افغانستان شده است .

یك شاهد عیني که اخیراً از شهر اندخوي وارد کابل گردیده است در زمینه به خبرنگار ما چنین اظهار داشت : به تاریخ دوم سرطان نیرو هاي امنیتي ترکمنستان سیاح مذکور را حین ورود به افغانستان با تمام خصوصیات آن براي مسوولین امنیتي آن شهر معرفي و تسلیم نمودند.

سیاح مذکور وسیله یي را با خود حمل دارد که در یك کنار آن بیرق ملل متحد و در گوشه دیگر آن بیرق کشوري که در آن سفر مي نماید مي افرازد البته موصوف آن زمانیکه ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

اسلامی امارت د ښځو د عزت او عصمت ساتونکی دی

د افغانستان د اسلامی امارت پر خلاف د لویدیځ د ناروا او پوچو پروپاگندو له جملی څخه یوه هم د ښځو په هکله د امارت اسلامی تگلاره ده چی په ډیر معکوس ډول شپه او ورځ د دوی له خوا تکرارېږی او د ښځو د نری والو حقوقو څخه یی لویه سرغړونه بولی که څه هم غرب په خپل اعتراض کی یو شمیر داسی موضوعات هم شامل کړی چی بېخی حقیقت نه لری او بېخی بهتان او تهمت ورته ویل کیږی چی د ډیرو بی طرفو بهرنیو ژورنالستانو له خوا هم رد شوی دی خو کوم شی چی ډیر ټینگار وریاندی کیږی هغه د یو محدود شمیر دفتری ښځو له کاره گوښه کیدل دی او هغه هم په هغو ۲ مخ

نولس تنه روسی پوځیان ووژل شول

د روسیی نولس تنه سرتیری پرون ددغه هیواد د یو پوځی هلیکوپتر د راغورځیدو له امله ووژل شول.

د روسیی د بهرنیو چارو وزارت د خبر له مخی ٤ مخ

په کامپ دیوید کی دفلسطینیانو او صهیونستانو تر منځ خبری دوام لری

د کمپ دیوید د خبرو نوی پړاو د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیری مادلین البرایت د اسرائیلو د صدراعظم ایهود بارک او د فلسطین د خپلواکی اداری د رئیس یاسر عرفات په ٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

مواردو کی چی ښځو ته پکی څه خاصه اړتیا نه وی، پاتی شو صحت او ځینی نور کارونه، نو هلته خو معمولاً ښځی د پخوا په شان خپل کار کوی، د ښځو د کار بندیز په هکله باید ووایو چی اسلامی امارت د خپلی خوا خوږی د رناوی او اسلامی کرنلاری په اساس چی ښځی د خپلی ټولنی یو مهم عنصر او خپلی میندی گڼی هغوی ته په خپلو کورو کی معاش ورکاوځو د همدی په اصطلاح بشر پاله ملګرو ملتونو له خواد اقتصادی بندیزونو په وجه چی کله مالی ستونزی را پیدا شوی نو مونږ مجبور شوو چی ان لا یو شمیر نارینه مامورین هم له کاره گوښه کړو، د ښځو دغه معاشونه هم قطع شول او دا یو عمومی مشکل دی چی ټول افغان ولس تری کړیږی او په حقیقت کی د روسانو د یرغل راهیسی د تیرو شل کلنو جګړو حتمی پایلی دی ځکه په دغو جګړو کی زمونږ ټول اقتصادی بنسټونه نړیدلی او هیواد مو په کنډوالو بدل شوی نو که ملګری ملتونه ریښتیا کوی زمونږ د اقتصادی ستونزو په حل کی دی مرسته وکړی او هسی تش د پروپاگند لپاره دی دا موضوع نه شاربی، د اقتصادی ستونزو په کمیدو سره زمونږ د ټولنی د ښځینه او نارینه و مشکلات ډیر راکم او خلک به سوکاله شی، لکه چی زمونږ یو زیات شمیر افغان میرمنو له بهرنیو راډیو گانو سره په مرکو کی دا خبره په ډاګه څرګنده کړه چی که څوک ریښتیا کوی زمونږ د اقتصادی ستونزو غم دی وخوری ځکه چی مونږ په کور کی له ناستی، ستر او حجاب څخه هیڅ کوم تکلیف نه لرو.

حقیقت دا دی چی د افغانستان اسلامی امارت لکه د خپلو ټولو دینی، ملی، فرهنگی او تاریخی ارزښتونو په څیر د خپلو افغانی میرمنو د عزت او عصمت هم په کلکه دفاع کوی او هری قربانی ته چمتو دی مونږ په ځغرده وایو چی الحمد لله مسلمانان یو، په خپلو دینی او ملی اصولو ټینګ ولاړ یو او زمونږ دین او مذهب د غربی ډوله مختلط کار او تعلیم کلک مخالف دی او لکه چی څرګنده ده افغانان د خپل دین او ناموس په هکله ډیر حساس دی او د تاریخ په شهادت معلومه ده چی بی ستری او فحشا ته په لمن وهلو دلته څرنګه پاخه حکومتونه ړنګ شوی او د ملت له سخت قهر او غضب سره مخامخ شوی دی پاتی شوه له بهرنیو موسسو سره د افغان میرمنو د کار خبره نو دا هم ټولو ته جوته ده چی ددی ډول کار گټه ډیره کمه او تاوان یی ډیر زیات دی، په زیاترو موسسو کی ښځو ته د ځانګړو ملحوظاتو په اساس کار ورکول کیږی او بیا په مختلفو طریقو سره همدی ناروا اختلاط، فحاشی او لا د بهر سفرونو ته هم هڅول کیږی نو دا ډول چلند به څنګه زمونږ مجاهد او میړنی ولس ته د منلو وړ وګرځی دا په داسی حال کی چی په عمومی ډول د دفتری میرمنو شمیر د هیواد د ټول ښځینه نفوس په پرتله یو پر زرمه برخه هم نه راځی، له دی سره سره بیا هم اسلامی امارت هڅه کوی چی ښځو ته د اسلامی اصولو په رڼا کی د کار او تعلیم ډیره ښه زمینه مساعده کړی، مرستی ورسره وکړی او په داسی ډول یی وپالی چی هم یی خپل عزت او عصمت خوندی وی او هم پردیو موسسو ته څه اړتیا پیدا نه کړی داسمه ده چی په اسلامی امارت کی به د مالی او اقتصادی ستونزو له کبله دیو محدود شمیر ښځو معاشونه بند شوی وی چی دا یوه مادی خبره ده، خو هغه معنوی ارزښتونه چی اسلامی امارت افغان میرمنو ته وروبخښل او لوی عزت او درناوی یی ورکړ هم یو تاریخی ویاړ دی اسلامی امارت د ښځو عزت او وقار ساتلی او هغوی یی د سپکاوی او هغه ناروا تجاوز څخه ژغورلی دی چی د نورو هیوادونو د ولسمشرانو په دفترو کی هم تری خوندی نه دی هغه مختلط نظامونه چی ښځو ته یی بی شمیره ستونزی او کشالی را پیدا کړی دی هلته چی په ملیونو ښځی بی سر پناه او بی خاونده ژوند تیروی د څو ورځو لپاره تري استفاده کیږی او بیا له طلاق سره مخامخ وی، که مال او ښایست و نه لری هیڅوک یی هم خریدار نه وی او په ډیر ظالمانه ډول د هوسمنو او پانګه والو په هټیو کی د یوی بی قدره متاع په ډول خرڅیږی

اسلامی امارت خپلی پاکی او غیرتمنی ټولنی ته دا ډول نظام نه غواړی او خپله معاشره د فحشا او بدلمنی له دی منحطو رواجونو څخه ژغورل غواړی تر څو وکولای شی د ټولنی غیرت، میړانه او نارینتوب پر ځای پاتی او تل په ښه شان د خپل دین، استقلال او خپلی خاوری څخه په ښه ډول دفاع وکړای شی.

اسلامی امارت یو ځل بیا د خپل دی هوډ پخلی کوی چی د اقتصادی ستونزو په کمیدو او د شرایطو په سمیدو سره به د ښځو په هکله ډیر مثبت گامونه واخلی او د هغوی د سالمی روزنی او سوکاله ژوند جوړونی لپاره به ښه اغیزناک پروگرامونه جوړ کړی.

د هیواد د فرهنگي فعالیتونو راپورتاژ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په تعلیمي سیمینار کي:

د شریعت اوونیزی درنو لوستونکو!

تیره اوونی د اطلاعاتو او کلتور وزارت په زیار ددغه وزارت د اړوندو رئیسانو لپاره یو روزنیز اووه ورځنی سیمینار دائر شو چی د هیواد د ۲۸ ولایاتو د اطلاعاتو او کلتور رئیسانو پکی گډون کړی و.

زمونږ خبریال له فرصت نه په استفادي سره په نوموړو ولایاتو کی د فرهنگی بهیر او فعالیتونو په اړه له محترمو رئیسانو سره مرکه کړی چی په گډه یی لولو!

په پیل کی د ننگرهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور محترم رئیس عتیق الله عزیزی د خپلو فرهنگی فعالیتونو په اړه داسی وویل: د ننگرهار ښکلی او تاریخی ولایت کی فرهنگی بهیر په چټکی سره مخ په وړاندی روان دی او د اسلامی امارت د ځانګړی پاملرنی له امله چی له افغانی اصیل فرهنگ او ادب سره یی لری، د ننگرهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست په هیواد کی د اسلامی امارت د ارمانونو د پوره کولو په خاطر دغه فرهنگی دندی په غاړه لری زمونږ فرهنگی فعالیتونه عبارت دی له:

۱- د ننگرهار لرغونی ورځپانه: د ننگرهار په تاریخي ورځپانه کی د اسلامی انقلاب په تیره بیا د هغه د نوی او بشپړ تیابی پړاو په بریالیتوب سره مېنه او مثبت بدلونونه را منځته شوی او هغه دا چی ددی ورځپانی کمیت، کیفیت او محتوا د پخوا په پرتله ډیره اغیزمنه، بشپړه او په اسلامی روحیه سمباله شوی او په ډیره ښکلی ښه په اوونی کی دری ځله له چاپه راوزی.

۲- د ننگرهار مجله: په افغانستان کی د اسلامی امارت په بریالیتوب سره دغی مجلی ته د نشراتی فعالیتونو لاری ډیری ښی اواری شوی او د اسلامی امارت د هغی علاقی او دلچسپی له امله چی له افغانی اصیل فرهنگ سره یی لری دغی مجلی ته یو ځل بیا د کار او فعالیت زمینه برابره شوه او نشراتی فعالیتونه یی په هر اړخیز ډول پیاوړی شول دغه مجله په ډیره ښکلی ښه او صحافت په هرو دریو میاشتو کی یو ځل له چاپه راوزی او د خپلو مینه والو ادبی او فرهنگی تنده ماتوی باید وویل شی چی دغه مجله په هیواد کی دننه او هم بهر کی زیات مینه وال لری.

۳- د ننگرهار عامه کتابتون: دغه کتابتون د ننگرهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ځانګړو هلو ځلو له امله او د وطنپالو فرهنگیانو په مرسته او لورینه اوس ددی جوګه شوی چی د زرګونو ډول ډول کتابونو په درلودلو سره د مینه والو تنده ماته او ستونزی یی حل کړی. دغه کتابتون هره ورځ د سهار له اتو بجو څخه د مازدیګر تر څلورو بجو پوری د لوستونکو او مینه والو پر مخ پرانیستی وی.

٤- باختر آژانس: د باختر آژانس ځانګه هم د پرسونل او نورو امکاناتو له کمښت سره سره هره ورځ په نه ستړی کیدونکی توګه د سیمی خبرونه او د امارتی واحدونو او اداړو غوره فعالیتونه او پرمختګونه د رپوټونو په ترڅ کی د ننگرهار دسیمه ییزي راډیو او ورځپانی له لاری خپلو هیوادوالو او د سیمی اوسیدونکو ته په مناسب وخت کی وړاندی کوی.

٥- امارتی مطبعه: د ننگرهار ولایت امارتی مطبعه چی په مدرنه او عصری تکنالوژی سره سمباله ده په ډیره ښکلی او ښه ښه د ښتیغ زون د امارتی اداړو او چارواکو او افرادو غوښتنی او د اړتیا وړ چاپی اړتیاوی په خپل وخت سره سرته رسوی.

٦- تاریخی آثار او آبدات: د ننگرهار ولایت ټول ولسوالان او مسولی ځانګی د رسمی لیکونو په وسیله د عالیقدر امیر المومنین د ځانګړی فرمان د لا ښه تطبیق او عملی کولو په خاطر دغه اصل ته لا زیات راهڅیدلی او د تاریخی آثارو او آبداتو ارزښت او د هغوی مصؤن او خوندی ساتلو ته یی لا پاملرنه زیاته کړی ده همدارنګه د ورځینو علمی، فرهنگی ادبی او د ودیزو غونډو او سیمینارونو جوړولو ته هم خورا اهمیت او ارزښت ورکوی.

محترم مولوی محمد شفیق آمر رادیو صدای شریعت ولایت هرات یکتن دیگر از اشتراک کنندگان سیمینار در مورد فعالیت های فرهنگی ولایت هرات چنین معلومات دادند: ریاست اطلاعات و کلتور ولایت هرات در چوکات تشکیلاتی خویش دارای شعبات ذیل میباشد: ریاست اداری، معاونیت، آمریت ها و مدیریت های اداری، رادیو صدای شریعت مطبعه امارتی اعلانات، محاسبه، توزیع اتفاق اسلام، آژانس اطلاعاتی باختر، آبدات تاریخی، کتابخانه عامه، انجمن ادبی، موزیم و همچنان دارای یک یک مدیریت و یک یک نماینده گی در ولسوالی های چهارده گانه این ولایت میباشد.

بعد از پیروزي امارت اسلامی به همه بخش های مربوط خاصتاً به امریت آبدات تاریخی توجه خاصی صورت گرفت که با دلسوزی مسؤلین امور صحن مسجد بزرگ جامع و تاریخی ولایت هرات از سنگ های نفیس سنگفرش گردید که قسمت زیادی از ایوانهای شمالی فرش گردیده و دو دروازهٔ ورودی نصب گردید. دو باب وضوخانه برای رفع نیازمندی نمازگذاران به سستم عصری اعمار گردید همچنان باید متذکر گردید که آمریت حفظ آبدات تاریخی مسجد جامع تاریخی زیارتگاه، ترمیم مسجد جامع غوریان، ترمیم مسجد جامع کروخ که حیثیت تاریخی دارد مجدداً ترمیم گردیده است. همچنان مهمان خانه خواجه عبدالله انصاری «رح» گنبد زیارت امام فخر رازی، مولانا جامی و گنبد گوهر شاد بیگم نیز ترمیم گردیده است.

د بغلان ولایت د اطلاعاتو او کلتور محترم رئیس د خپل ولایت د فرهنگی چارو او لاسته راوړنو په هکله داسی معلومات راکړل:

د بغلان ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست تر ۱٤۲۱ هـ ق کال پوری هیڅ فعالیت نه درلوده له نیکه مرغه له ۱٤۲۱ هـ ق کال له پیل نه را په دیخوا یی یو ځل بیا په فعالیت پیل کړی او همدا اوس اوس یی دغه څانګی په کار او فعالیت بوختی دی:

۱- د راډیو تلویزیون آمریت: د بغلان ولایت د راډیو تلویزیون مازدیګرنی دوه ساعته خپرونی چی د هیواد والو د استفادی وړ ګرځیدلی دی او په هغو کی خبرونه، اعلانونه او د مرکزی راډیو لخوا ثبت شوی ترانی او نور دینی مضامین خپریږی چی هره ورځ د مازدیګر له پنځو بجو د ماښام تر اوو بجو پوری نشرات لری.

۲- د اتحاد جریده: دغه جریده په ۱۳۰۰ هـ ش کال تاسیس شوی او له لس کاله فعالیت وروسته بیا له فعالیته ولویده. خو الحمد لله اوس د اطلاعاتو او کلتور د ریاست د تکړه کارکوونکو له خوا د ۱٤۲۱ هـ ق کال د محرم الحرام په لومړی نیټه بیا فعاله او هیواد والو ته د خدمت جوګه شوه او په اوونی کی یو ځل د زرو ګنو په تیراژ سره خپریږی او د ګډون کوونکو او د بغلان ولایت د امارتی اداړو او ولسوالیو په شمول د هیواد مرکز او ټولو ولایتونو ته په ټاکلي وخت رسیږی.

۳- د مطبعی آمریت: د غه آمریت په دوو پایو هایدلبرګ او د پښتو د چاپ د ماشین په لرلو سره د بغلان ولایت ټولی اړتیاوی په ښه توګه پوره کوی او د اتحاد جریده هم پکی چاپیږی دغی مطبعی د ۱٤۲۱ کال په لومړی ربع کی ۳۸ ملیونه افغانی ګټه کړیده چي په ټاکلی شمیره بانک ته لیږدول شوی.

٤- د بغلان ولایت عامه کتابتون چی له ډیری مودی راهیسی د استفادی وړ نه و یو ځل بیا فعال او پرانیستل شو همدا اوس یی د ۳٤٥۸ ټوکه علمی، ادبی، تاریخی، هنری، تعلیمی او نورو ډول ډول مجلو په درلودلو سره فعالیت دوام لری. او د کتاب مینه والو ته د مطالعی او معلوماتو لاره پرانیستل شوی او په دی اړه یی ډیری ستونزی لری شوی دی.

٥- د باختر اطلاعاتی آژانس: د بغلان ولایت د باختر اطلاعاتی اژانس هغه ورځنی خبرونه، اعلانونه، مرکی او راپورتاژونه را ټولوی چی د مرکزی راډیو او ورځپانو له خوا خپریږی او د اتحاد جریدی لپاره یی هم ترتیب او اماده کوی.

باید یادونه وکړم چی د بغلان ولایت د ټولو ریاستونو، تصدیو، فابریکو او امارتی اداړو او موسسو لپاره د قانون په چوکاټ کی لوحی لیکلی شوی چی پخوا یوه لوحه هم په خپل حال پاتی نه وه. د همدی ریاست له خوا درول شوي همدارنګه د ښاریه مناسبو ځایونو کی د اسلامی امارت سپیڅلی شعارونه لیکل شوی دی.

دا وه د بغلان ولایت د کلتوری او فرهنگی چارو مفصل معلومات په پای کی یو ځل بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت له ځانګړی پاملرنی او کوشش او ټولو لارښوونکو او مسولو وروڼو څخه ددی با ارزښته او ګټور سیمینار د جوړیدو په لاره کي لا بریالیتوبونه غواړو.

پاتې لري.

محترم معین وزارت آب و ...

همین منظور یك شرکت مشترك کاري بین وزارت آب و برق ا.ا.ا و دولت ترکمنستان در شهر هاي هرات و فاریاب ایجاد و کار خویش را در زمینه آغاز نموده اند.

وي اضافه نمود: مواد شامل این پروتوکول در دو مرحله مورد اجرا قرار خواهد گرفت؛ در قدم نخست اهالي شهر هرات در مدت ۸ ماه آینده کاملاً از نور برق بهره مند میگردند و در دور دوم، کار متباقي ولایات از سر گرفته میشود؛ البته کار تأمین شبکه برق شهر هرات بدوش وزارت آب و برق ا.ا.ا مي باشد.

وي افزود: هم اکنون به مقصد پیشبرد این هدف دولت ترکمنستان ۲ لین برق امتدادي را از ترکمنستان بداخل افغانستان انتقال داده است که یکي در شهر هرات و دیگر آن به شهر اندخوي افغانستان امتداد یافته است.

وي در مورد تورید، تهیه، نصب و منتاژ سامان الات برقي این شبکه چنین ابراز داشت: کلیه مواد مورد ضرورت این شبکه را دولت ترکمنستان طور قرضه به جانب افغاني تأمین و تمویل میکند؛ آنگاه اینکه برق بصورت کامل در ولایات مزبور تامین گردید استفاده کنندگان این برق مکلف اند در بدل مصرف في کیلو وات برق ۳ سنت محصول و ۲ سنت به عنوان قرضه مواد برقي بپردازند. که مجموع محصول برق ولایات متذکره از جانب ا.ا.ا به دولت ترکمنستان ماهوار بشکل اسعاري تادیه خواهد شد؛ هکذا قرار است در روز هاي نزدیک کار پروتوکول شبکه برق ولایت نیمروز با دولت ایران صورت بگیرد که با عقد این قرار داد ولایت نیمروز نیز تحت چتر تنویر برق قرار خواهد گرفت.

در رابطه به وضعیت بند سروبي محترم ملا عبدالهادي اخند اینگونه توضیحات داد: به تناسب سال هاي گذشته سطح آب در بند سروبي تنزیل نموده است؛ البته تأثیر عمده این کاهش خشکسالي حاکم در کشور مي باشد؛ بناً وزارت آب و برق به منظور اینکه توانسته باشد از خشك شدن کلي ذخیره آب این بند جلوگیري نماید تجویز گرفت تا سر از همین هفته روزانه شهر کابل را ۲٥ فیصد پرچاوي بدهد. باید گفت که صورت تطبیق این پرچاوي شکل دوراني داشته و این پروگرام الي حل شدن مشکل آب در بند ادامه خواهد داشت.

خوانندگان عزیز: از چندي بدینسو سوالاتي در رابطه به افزایش محصول برق منازل بشکل شك و تردید در ذهن و زبان هر همشهري شهر کابل نفوذ نموده است. خبرنگار ما به منظور صحت و سقم این شایعات از محترم معین وزارت آب و برق در زمینه پرسش نمود که وي به منظور اطمینان خاطر همشهریان شهر کابل در رابطه به افزایش محصول برق منازل چنین اظهار داشت: اخیراً حکم ریاست الوزرا، ا.ا.ا در مورد افزایش محصول برق منازل اعتبار از اول محرم الحرام سال ۱٤۲۱ به شرح آتي صدور یافته است:

۱- از صفر الي (٦۰۰) کیلو وات، محصول (٦۰۰) افغاني

۲- از (٦۰۱) الي (۱۲۰۰) کیلووات، محصول (۱۲۰۰) افغاني

۳- از (۱۲۰۱) الي درجه انتهایي، محصول (۲۰۰۰) افغاني

و محصول في کیلو وات برق دکاکین، ساحات تجارتي، آسیاب برقي و غیره (۳۰۰۰) افغاني تثبیت گردیده است.

داستان «مشت در زمین» بیانگر برخی از پرابلم هاي امروز جامعهء ما

پوهیالی لیلما «هما»

اخیراً از طریق برنامه مجلهء رادیویی داستاني زیر عنوان «مشت در زمین» نوشته محترم بهرام بریال به دست نشر سپرده شد.

داستان علاوه از آنکه از تکنیك فوق العاده خوب داستانویسي برخوردار بود پیام خوبي را نیز احتوا میکرد.

شیوه بیان داستان زیبا و دلپذیر بود و تصاویر آن گویا و مقبول بود داستانویس این تصاویر را چنان با مهارت در داستانش جا داده بود که آدمي حین شنیدنش تصور میکرد که خود حاضر صحنه است و حوادث را با تار و پودش از نزدیك مشاهده مینماید و یا چون نوار ویدیویي از مقابل چشمانش میگذرد. که اینهمه از پخته گي نویسنده در تکنیك داستانویسي حکایتگر میشود.

آنچه در داستان «مشت در زمین» و سایر داستانهاي محترم بهرام بریال که از طریق برنامه مجله رادیویي نشر شده است توجه شنونده را جلب میکند و ده چندان بر شکل زیبایي داستان نگاري اش مي افزاید همانا اندیشه قوي و پخته نویسنده است که با تعهد و مسؤولیت انساني به رشته تحریر در مي آید.

انسان با شنیدن داستان «مشت در زمین» به وضاحت در میابد که نویسنده بخاطر نام و نان شهرت نه بلکه بخاطر تعهدي که در برابر خدا و جامعه خودش دارد مینویسد. واقعاً هم همینطور است چه اگر نویسنده بخاطر کسب مادیات و شهرت دست به قلم ببرد هیچگاهي نوشته اش مفید و اثر بخش نخواهد بود. قهرمان مرکزي داستان «مشت در زمین» پسر بچه شبان به نام نسیم است که در خانواده خویش صرف یك مادر مهربان دارد. نسیم وظیفه شباني رمهء اهالي قریه را به عهده دارد او صبحگاهان با نوازش ملایم مادر عزیزش از خواب بر میخیزد و همراه با یك شابز خودش به جمع آوري رمه هاي اهالي قریه میپردازد و عصر ها مانده و زله با رمه یکجا از چراگاه بر میگردد و تمام خستگي روز را با یك تبسم زیبا و ملیح مادرانهء مادرش فراموش مینماید و از مزد شباني مادر و پسر زندگي آرام خوشبخت و بي درد سري را سپري مینمایند آهسته آهسته نسیم جوان میشود و واقعاً عصاي دست مادر میگردد اما گاهي انسان چقدر کم بخت میباشد و لحظاتي خوشبختي اش چقدر کوتاه نسیم هم از بخت بد مادر عزیز و مهربانش را که یگانه متکاي زندگي خانوادگي اش است از دست میدهد و کابوس مرگ، او را از نزدش میرباید و نسیم با یك دنیا غم و اندوه تنها میماند.

چون جوان شده بود مطابق رسم قریه اجازه ورود به خانه هاي اهالي را نداشت تا رمه ها را گرفته به چراگاه ببرد بناً بیکار هم بود و طعن و لعن مردم قریه نسبت نداشتن پول نسیم را وادار به این کرد که قریه را ترك گوید و راه شهر رادر پیش گیرد تا پولدار شود نسیم در شهر براي اعمار مجدد یکي از خانه هاي مسکوني به مردي کاري میپردازد و غذاي بخور و نمیر روزانه را از مزد آن بدست مي آورد اما همیشه اندوهگین و چرتي به نظر میرسد. در همین مردي کاري با مردي کار دیگري به نام کچکول آشنا میشود کچکول که اجنت باند قاچاقیان مواد مخدر است و آگاهانه بخاطر جذب جوانان ساده و بي خبر از نیرنگ قاچاقبران به شهر آمده است با نسیم گرم میگیرد و به راز دلش پي میبرد که وي در فکر پولدار شدن است کچکول به نسیم وعده میدهد که در ختم کار او را به جاي خواهد برد که پولدار شود و چنین هم میکند.

کچکول ، نسیم را به دهکدهء دور دستي میبرد و بعد از یك مدت زمان کوتاه تفریح و استراحت هر دو راه مزرعه را در پیش میگیرند این درست زماني است که کشت کوکنار سر رسیده است و زمان حاصلدهي آن است. کچکول به نسیم طریقه نشتر زدن کوکنار را یاد میدهدو نسیم که پسر بچهء ساده دل و صاف نیت دهاتي است بي خبر از اینکه این بته ها چون زهري است براي بشریت، با علاقه مندي خاصي در اندك زمان طریقه نشتر زدن و جمع آوري شیره را فرا میگیرد همین است که زمان جمع آوري حاصلات فرا میرسد و سر و کله سردار یعني سر دسته باند قاچاقچیان بالاي مزرعه پیدا میشود. کچکول جدا از دیگران به صورت تنهایي سردار را ملاقات مینماید و در مورد شکار نو یعني نسیم به وي معلومات میدهد سردار که نسیم را پسرهوشیار و در عین زمان ساده دل میبابد براي کار با خویش او را دعوت مینماید نسیم که علاقمندکار است و در عین زمان میخواهد پولدار شود تا از طعن و لعن مردمان قشلاق خود رهایي یابد به بسیار خوشي دعوت را میپذیرد و کار کردن با سردار را آغاز میکند.

سردار، نسیم را آنقدر غرق در مادیات میسازد که نسیم وقتي یکروز خود را در آیینه میبیند از تغییراتي که در سرو صورت و اندام و لباس وي پدید آمده است به حیرت مي افتد و این زماني است که یاراي فرار نسیم از نزد سردار سلب گردیده است او که از طرف سردار بخاطر لیاقت وهوشیاري اش در کار نشتر زدن کوکنار لقب طوفان را بخود گرفته است با یك دسته افراد همیشه شیره کوکنار طور قاچاق را به آن طرف سرحد انتقال میدهد و از آن طرف پول را اخذ نموده براي سردار مي آورد تصادفاً در یکي از شب ها که باز هم نسیم و همراهانش قاچاق را انتقال میدهند از طرف پاسبانان اخطار توقف را میشنوند یکي از همراهانش به طرف پاسبانان سرحد فیر میکند که دو باره با آتش شدید پاسبان مواجه میگردند دو نفر همراهانش شدیداً زخمي میگردد و نسیم با استفاده از تاریکي شب از حادثه جان به سلامت میبرد و نزد سردار میرود وقتي چگونگي قضیه را به سردار حکایت میکند سردار از اموال خویش میپرسد وقتي در میابد که اموال در آنجا مانده است خشمگین شده میگوید میکشمت توسط افراد خویش وي را مورد لت و کوب قرار میدهد آنقدر که نسیم از هوش میرود بعد او راد ر طویله اسپها مي اندازد و دروازه را محکم میبندد. نسیم وقتي به هوش مي آید صداي اخطار آمیز سردار در گوشش طنین انداز است که میگوید: مي کشمت ترا زنده نمي مانم. نسیم به کمك قوت اسپ دروازه طویله را مي گشاید و شباشب از خانهء سردار در حالیکه زخم شدید برداشته و خون و خون آلود است فرار میکند بعد از طي یك مسافه طولاني دیگر توان حرکت در وجودش سلب میگردد از سر اسپ به زمین مي غلطد باز هم صداي مهیب سردار به گوشش طنین مي انداز که میگفت: میکشمت زنده نمي مانمت. نسیم باز هم قوت میکند و یك فاصله کوتاه را افتان و خیزان طي مینماید اما دیگر پایش از حرکت میماند و دو باره به زمین مي غلطد در حالیکه آخرین نفسهایش را میکشد یك مشت خاك را اززمین گرفته و به همان سمتي که آمده است با دستان لرزان پرتاب میکند و به این ترتیب آخرین درجه نفرت و انزجارش را از سردار و از کارهایي که بالاي او انجام داده است نشان میدهد سرش را با یکدنیا خستگي و مانده گي و زخم هاي عمیق به سمت غروب دور میدهد و جان را به جان افرین تسلیم میکند.

دقت در داستان «مشت در زمین» چند نکته را براي شنونده بیان مینماید که تعمق در آن از ارزشمندي خاصي برخوردار است.

داستان براي شنونده نشان میدهد که خانواده نقش بس ارزشمندي بالاي اعضاي خویش دارد. چنانچه در داستان دیدیم تا زماني که نسیم زیر سرپرستي مادر است نه تنها شاد و خرم است بلکه سعادتمند نیز است و غریبي و ناداري نمیتواند بر او اثر منفي بگذارد چه او در پشت خود مادر مهرباني دارد که او را از لغزیدن در فراز و نشیب جامعه نگهمیدارد.

و اما همینکه دست اجل مادرش را از او میرباید به اثر طعن و لعن مردم قریه، بخاطر ناداري اش در سر او افکار منفي پولدار شدن شکل میگیرد.

نکته قابل توجه دیگر در داستان «مشت درزمین» استفاده از ساده دلي مردم دهات است چنانچه وقتي کچکول یعني اجنت باند قاچاقچیان در شهر نسیم را میبیند او را بهترین شي براي شکار میابد بناً وي را با خود به قشلاق میبرد و کار و بار نشتر زدن و جمع آوري حاصلات کوکنار را به او مي آموزد و به سردار که رئیس باند است معرفي مینماید نسیم که پسر ساده دل است در ابتدا نمیداند کاري که او انجام میدهد چقدر به ضرر خودش جامعه اش و جهان بشریت است اما بعد ها وقتي میداند دیگر سردار او را چنان غرق در ناز و نعمت نموده است که روي وجدانش صفحه سیاه و مکدر پول حرام سایه افگنده است و نمیتواند از آن منجلاب خود را رهایي دهد باز هم میبینیم که به این اعمال ناشایسته کساني دست میزنند و شکار میگردند که از سایه پر عطوفت خانواده گي دور اند و ایمني عاطفي ندارند.

و اما این ناز و نعمت تا زماني دوام میکند که نسیم پول براي سردار قاچاقبر مي آورد اما همینکه یکبار قاچاقبر زیان میکند نسیم را به سرحد مرگ لت و کوب میکند و اخطار کشتن میدهد نسیم در آخرین لحظات زنده گي متوجه زشتي کارش شده است که آخرین درجه نفرت و انزجارش با پرتاب یك مشت خاك به سمت خانه سردار نشان میدهد و با خبر شدن پاسداران سرحدي این ضرب المثل معروف را در اذهان زنده میسازد که: ملخك یکبار جستي دو بار جستي آخر بدستي. یعني قاچاقچیان نمي توانند به همین شکل دوام بدهند سر انجام بدست قانون دستگیر شده و به محکمه عدالت سپرده خواهند شد.

به هر حال قسمي که در آغاز هم گفتیم داستان مشت در زمین نظر به ویژگي هایي خوبي که دارد از ارزشمندي خاصي برخوردار است همانطوري که دایرکتر و تمثیل نویس مشهور ما محترم بهرام بریال در عرصهء دایرکتري تعهد و مسوولیت دارد و لیاقت خود را به اثبات رسانده است همانطور در بخش داستان نگاري نیز از روي تعهد و مسوولیت کار مینماید و برادر محترم بهرام بریال در پهلوي رادیو در مطبوعات نیز آثار بهتر از این داشته است.

د اصحابو د ژوند پلوشي

لیکوال: دکتور عبدالرحمن رافت باشا
ژباړن: بشار

۷

عبدالله بن حذافة السهمی د کسری له دربار څخه ووت او په دې نه پوهیده چی خدای به څه ورپیښوی ، ایا وژل کیږی؟ او یا ازاد پریښودل کیږی؟ مگر څه وخت لا نه و تیر شوی چی داسی یی وویل:

په خدای سوگند، زه د رسول الله ﷺ د فرمان د رسولو څخه وروسته ددی پروا نلرم چی په هر حالت و اوسم، بیا پر خپل سورلی سپور شو، او خپله لاره یی ونیوله.

کله چی د کسری قهر او غضب سوړ شو نو امر یی وکړ چی عبدالله ورته راوستل شی خلک عبدالله پسی وگرځیدل او د شا او خوا ځایونه او لاری یی ولټولی مگر د هغه پته ونه لگیدله تر دی چی خلکو تر جزیرة العربه پوری لاری وکتلی ولی هغه پخپل تگ بریالی شوی و .

کله چی عبدالله حضرت پیغمبر ﷺ ته ورسید نو هغه ورته د کسری موضوع یاده کړه نو الهی پیغمبر ﷺ ورته داسی ښیرا وکړله: خدای دی د هغه ملک ټوټه ټوټه کړی .

کسری خپل والی «باذان» ته چی په یمن کی و داسی ولیکل: دغه سړی ته چی په حجاز کی ښکاره شوی دی، دوه غښتلی کسان ولیږه او هغو ته امر وکړه چی دغه سړی راته راولی.

باذان خپل دوه غوره کسان رسول الله ﷺ ته ولیږل، او د هغو په لاس یی فرمان ورکړ او په هغه کی دا حکم و چی هغه دی د دوو تنو سره د کسری د کتلو لپاره روان شی،او ډیل دی نکوی.

باذان دغو دوو تنو ته دا هم وویل چی تاسی د پیغمبر ﷺ د خبری څارنه وکړی او د هغه د موضوع په باب معلومات تر لاسه کړی او بیا ماته د هغه له موضوع څخه خبر راکړی .

د باذان دواړو سړیو په ډیری تیزي تگ کاوه تر هغه چی دواړه طایف ته ورسیدل، او په طایف کی د قریشو د تاجرانو سره مخامخ شول، او د هغه څخه یی د حضرت محمد ﷺ په باب پوښتنه وکړه . هغو وویل: هغه په یثرب کی دی. بیا تاجران په ډیری خوشحالی مکی ته لاړل، او قریشو ته یی داسی زیری ورکړ: خوشحاله اوسی زه تاسی ته زیری درکوم چی کسری د محمد ﷺ چاره کوی، او د هغه شر به له تاسی څخه بچ کړی.

دباذان سړی د مدینی په لوری روان شول، کله چی دواړه مدینی ته ورسیدل د حضرت پیغمبر ﷺ حضور ته ورغلل، او هغه ته یی د باذان فرمان ورکړ ، او دواړو الهی پیغمبر ﷺ ته داسی وویل: د پاچایانو پاچا کسری، زمونږ پاچا «باذان» ته فرمان لیږلی چی هغه تاته سړی ولیږی ، او تا هغه ته ورولی نو مونږ تاته راغلو څو ته مونږ سره لاړ شی، او که ستا خوښه وی نومونږ به ستا په باب کسری ته داسی خبره وکړو چی هغه ستا په گټه وی او د هغه ضرر له تا څخه بچ وی، او که ته ونه منی نو هغه داسي شخص دی چی ته د هغه له زور او سخت گیری څخه او دا چی هغه ستا او ستا د قوم په تباهی پوره توان لری ښه خبر یی.

رسول الله ﷺ موسکی شو، او دواړو ته یی داسی وویل: تاسی دواړه خپلو ځایونو ته ورشی او بیا سبا راشی.

کله چی دواړه په دویمه ورځ حضرت پیغمبر ﷺ ته ورغلل نو دواړو ورته داسی وویل: ایا ته دی ته تیار یی چی مونږ سره د کسری د کتلو لپاره روان شی؟ حضرت پیغمبر ﷺ دواړو ته وویل: تاسی دواړه به له دی ورځی وروسته کسری ونه وینی، خدای کسری وواژه او هغه داسی چی خدای په کسری باندی خپل زوی شیرویه په فلانی شپه او په فلانی میاشت کی مسلط کړ.

دواړو د حضرت پیغمبر ﷺ مخ ته په ځیر ځیر وکتل، او د هغو پر مخ د هغه د دهشت او هیبت نښی څرگندی شوی او هغه ته یی وویل: آیا پوهیږی چی ته څه وایی؟ ایا دغه خبره باذان ته ولیکو ؟! هغه وویل: هو، او هغه ته ووایی چی زما دین هغه ځای ته چی هغه ته د کسری پاچایی رسیدلی وررسیدونکی دی، او که ته اسلام ومنی نو هغه څه چی ستا لاس لاندی دی هغه به تاته درکړم، او تابه ستا پر خپل قوم پاچا کړم.

دواړه سړی د رسول الله ﷺ له حضوره ووتل، او باذان ته ورغلل، او باذان یی له موضوع څخه خبر کړ.

که محمد ﷺ په رښتیا دغه خبره کړی وی نو هغه خامخا پیغمبر دی، او که داسی نه وي نو په هغه کي به فکر وکړو څه وخت لا نه و تیر شوی چی د شیرویه فرمان باذان ته ورسید، او په کی ورته داسی ویل شوی و: ما کسری وواژه، او ما دغه کار د خپل قوم د کسات اخستلو لپاره وکړ ځکه هغه د اشرافو مرگ روا گاڼه د هغو ښځی به یی بندیانولی او مالونه به یی لوټول نو کله چی تاته زما دغه فرمان ورسید نو ماته د خپلو لاس لاندي کسانو بیعت واخله.

باذان د شیرویه فرمان لا نه و لوستلی چی هغه یی خپل څنگ کی کیښود، او خپل اسلام یی اعلان کړ، او په یمن کی اوسیدونکو فارسیانو هم اسلام ومانه

دا دعبدالله بن حذافه کیسه وه چی د فارسیانو د پاچا کسری سره وه او هر څه چی د هغه کیسه د رومیانو د مشر قیصر سره ده هغه داسی ده :

پاتي لري

سیاحی که می خواهد در پیاده گردشی ...

داخل افغانستان شد بجاي بيرق تركمنستان بيرق امارت اسلامي افغانستان را در وسيله متذكره برافراشت.

وسيله مذكور داراي چهارتاير بوده و در وسط آن كه خالي ميباشد خود قرار گرفته هكذا دستانش را در ميله پيشروي، كه شبيه ميله، بايسكل مي باشد حلقه زده و پياده به حركت مي افتد.

طبق اظهارات سياح مذكور، وي از مدت ۱۳ سال بدينسو به شكل پياده از هند (وطن اصلي اش) حركت نموده و به شمول افغانستان به ۵۹ مملكت طور پياده سفر نموده است.

از آنجائيكه اهالي منطقه اندخوي در مسير راه با سياح مذكور هم صحبت شده اند وي چنين اظهار داشته كه با لسانهاي هندي ، اردو،انگليسي و روسي بلديت كامل دارد و گفته است كه مي خواهد با اين سفرش ريكارد پياده گردشي را در جهان قايم نمايد.

وي در نظر دارد تا بعد از ختم سفرش از افغانستان به كشور هاي پاكستان، ايران و عربستان سفر نموده و دو باره به كشورش برگردد تا مادرش را كه سخت در انتظار به سر ميبرد وي را ملاقات نمايد.

اين سياح بعد از طلوع آفتاب در حركت شده و تا هنگام غروب راه را طي مي نمايد زمانيكه درشهر، قريه و يا تجمع مردم در يك محل مقابل مي گردد با آنها صحبت مي نمايد و اگر غذا و يا نوشابه، به وي ميدهند از آن تناول مي نمايد و زمانيكه از شهر خارج گرديد در مسير راه با كسي صحبت نمي كند و صرف با اشاره سر جواب ايشان را ميدهد .

وي مي گويد مصارف سفرش نيز توسط اهالي و يا منسوبين هر منطقه يي كه در آنجامي رسد تاديه مي گردد چنانچه در اندخوي يك تن از اهالي آنجا به وي مبلغ ۵۰ دالر امريكايي و شخصي ديگري مبلغ ۴۰ دالر و در مزار شريف از طرف يك تن از مسوولين آن ولايت مبلغ ۲۰۰ دالر به وي تاديه گرديد.

موصوف به كمك هيچ كس ضرورت ندارد كه از يك منطقه به منطقه ديگر منتقلش سازند و يا در صورت خراب شدن وسيله كه با خود حمل مي نمايد همكاري كسي را نمي پذيرد و مي گويد با كمك شما اين سفرم بيهوده خواهد شد.

اين سياح هندي ۲۲ سال داشت كه از فاكولته فارغ گرديد و به سفرش آغاز نموده و حالا ۳۵ سال دارد .

شاهدان عيني اضافه داشتند كه موصوف از شهر اندخوي به مزارشيف رفته و از آنجا ولايت مزار شريف به طرف كابل در حركت شده و عنقريب وارد شهر كابل مي گردد كه با رسيدن وي و ملاقات با او معلومات بيشتر در زمينه به شما خوانندگان عزيز ارائه خوايم نمود.

شريفي

حربي پوهنځی به ...

حربي پوهنځي به خبرنگار ما اظهار داشته چنين افزود : حربي پوهنځي به عنوان اولين كانون نظامي در كشور در چوكات رياست تعليم و تربيه وزارت دفاع ا.ا.ا با داشتن ۵۳ استاد و ۲۵۰ محصل وسيعاً فعاليت داشته و در امر تعليم و تربيه نظامي اولاد وطن شب و روز مصدر خدمات ارزنده ميباشند.

وي اضافه داشت : محصلين ما شامل صنوف ۱۰-۱۱ و ۱۲ بوده كه بعد از اتمام اين دوره آنها به منظور ارتقاع سطح دانش نظامي و ادامه تحصيلات عالي به پوهنتونهاي نظامي كشور چون: پوهنتون هوايي، حربي پوهنتون، اكدامي تخنيك و ... معرفي ميگردند .

وي افزود : درينجا محصلين ما از نقاط مختلف كشور مشغول آموزش تعليمات نظامي بوده و علاو بر دروس نظامي اختصاصي ، مضامين ديني و عصري را نيز تعقيب ميكنند.

وي ضمن ياد دهاني از تسهيلات محصلين درين كانون ياد آور شده گفت : درينجا محصلين ما بشكل ليليه اقامت داشته و از اعاشه ۲۴ ساعته مستفيد ميباشند؛ هكذا براي هر محصل هفته وار مبلغ ۱۰۰۰۰ افغاني كمك صورت ميگيرد؛ ضمناً در زمره تسهيلات اين كانون ميتوان از فعاليت آمريت سپورتي حربي پوهنځي با ميدان هاي خوب ورزشي و كلنيك صحي آن نام برد.

مؤسسهٔ هبیتات ..

لحاظ كمبود پروژه هاي آب آشاميدني مطرح نموده توجه مسوول موسسه متذكره را به ان معطوف داشت.

در اين ديدار مسؤول موسسه هبيتات توضيح نمود كه موسسه هبيتات به منظور تنظيف شهر هم در عرصه هاي مالي و هم در عرصه تخنيكي شاروالي كابل را كمك قصير المدت مينمايد.

همچنان مسوول موسسه متذكره آماده گي هاي موسسه مربوط را بخاطر رفع آب اشاميدني شهروندان كابل ابراز نمود.

درياست الوزرا ء ...

پروګرام جوړ کړي .

ده د یوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل : د افغانستان اسلامی امارت د کونړ ولایت په مرکز اسعد اباد او ولسوالیو باندی د ختیځ او مرکزی نورستان په شمول او د هغو په مربوطه ساحو باندی پوره حاکمیت لري البته بوازی د هسکو غرو په ګڼو ځنګلو کی ربښتیا هم یو شمیر مخالفین شته چی له دی غرو څخه په استفادی سره کله نا کله په لاره کی مشکل پیدا کوی خو دښمن په کونړ کی دومره قوت نه لری چی هغه جبهوی جنګ او په دوامداره توګه د اسلامي امارت په مقابل کی ودریږی ، موږ د اسلامی امارت له پالیسی سره سم د علمای کرامو او قومی خلکو په واسطه هڅه کړیده چی له هر مخالف سره خپل مشکلات د خبرو له لاری حل کړو هماغه و چی د قوماندان کشمیر خان سره تیر کال د علمای کرامو او قومی خلکو په واسطه خبری وشوی او هغه د اسلامی امارت د اهدافو منلو ته چمتو شو زمونږ د جنګ مشکل له هغه سره تر دی وخته حل دی امید دی چی په راتلونکی کی به هم مشکل پیدا نه شی.

تاسی ته به معلومه وی چی په لغمان کی کله کله یوازی د دولت شاه ولسوالی په مربوطاتو کی مشکلات پیښیدل اوس هلته په بشپړه توګه امنیت موجود او زمونږ مشکلات حل دی.

مساعدت هاي ...

نماينده گي جمعيت عالي افغاني سره ميباشت در ولايت زابل به ارزش يك هزار و سيصد و شصت و پنج مليون افغاني از مواد خوراكه شامل گندم، روغن و آرد را براي يك هزار و دو صد خانواده ولسوالي ارغنداب ولايت زابل كه در اثر تاثيرات سو خشكسالي شديداً متضرر گرديده اند توزيع نموده است . به قول يك منبع مسؤول جمعيت عالي افغاني سره مياشت پروسه توزيع امداد بشر دوستانه خويش را براي مردم زون جنوب غرب روي دست داشته كه مطابق پلان به نيازمندان و مستحقين توزيع ميگردد.

د ستونزو له منځه ...

جوړ شوی و د پرون پای ته ورسید.

په سیمینار کی د علمی مقالو له ویلو وروسته د ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور د ریاستونو د بیلا بیلو برخو چارواکو د خپلو اړوندو فعالیتونو او کار رپوټونه د خپلو ادارو د اوسنیو ستونزو او نیمګړتیاوو له وړاندی کولو سره جوخت ولوستل او د اطلاعاتو او کلتور وزارت د چارواکو پاملرنه یی ورته واړوله .

د سیمینار د آخرنی ورځی غونډه کی چی د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتی او کلتوری معینانو محترم مولوی رحیم الله زرمتی او محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک د راډیو تلویزیون او افغان فلم لوی رئیس محترم ملا محمد اسحق نظامی د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتی او فرهنګی ادارو چارواکو او د اړوندو ارګانونو نورو مسوولینو ګډون کړی و لومړی د یو شمیر ولایتونو د فرهنګی چارو رپوټونه ولوستل شول او هغه تمثیلی پارچه چی خلقیانو او پرچمیانو د قساوت ظلم زموږ د هیواد والو د وژنی او له روسانو سره د هغوی د ترلتیا مسئله او څرګندوله وه د شریعت غږ راډیو تکړه ممثیلینو له خوا اجرا شوه چی د ننداره کوونکو د تاثر سبب شوه .

وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری معین محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک د سیمینار د جوړیدو د هدف او د برخه والو د مسلکی او اداری پوهی د سطحی د لوړولو په لاره کی د هغه د ارزښتناک رول په باره کی خبری وکړی او د سیمینار له شاملانو څخه یی وغوښتل چی په هغه مسوولیت او دریغ باندی په پوهیدو سره چی د روښان فکره قشر په توګه د تولنی هیواد او خلکو په وړاندی یی لری خپلی وجیبی او مکلفیتونه درک کړی او د هغو نازکو شرایطو له پام کی نیولو سره چی هیواد او خلک ورسره مخامخ دی په هوښیاری سره او په جدی توګه عمل وکړی.

محترم کلتوری معین د نشراتی او فرهنګی چارو ارزښتناک رول او هغه زیان او تاوان ته چی د روسانو د تیری له امله ورته رسیدلی دی هم اشاره وکړه وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال د سیمینار د بهیر د څیړنی په ترڅ کی برخه والو ته په خطاب کی وویل د سیمینار د جوړیدو او په مرکز کی ستاسو د غونډی موخه او هدف په اړوندو ادارو کی د ستونزو مشکلاتو نواقصو او نیمګړتیاوو لیری کول او په ښه توګ د ورځنیو چارو په تر سره کولو کی د سمون او همآهنګی رامنځته کول دی.

د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر د سیمینار له بهیر او د ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور د بیلا بیلو څانګو د رئیسانو او چارواکو د فعالی ونډی اخستنی له امله د خوښی څرګندولو په ترڅ کی یو ځل بیا له برخه والو څخه وغوښتل چی له موجودو امکاناتو څخه په استفادی سره هیواد او خلکو ته د خدمت او د اسلامی انقلاب د لاری د سور کفنو شهیدانو د ارمانونو د پوره کولو په لاره کی په جدی او مخلصانه توګه هڅه او هاند وکړی.

په پای کی هغه سوغاتونه چی د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا برابر شوی وو د اطلاعاتو او کلتور د محترم وزیر محترم کلتوری معین او ددغه وزارت د نورو چارواکو له خوا د سیمینار په برخه والو باندی وویشل شول او د دعایی په لوستلو سره سیمینار پای ته ورسیده.

د پلخمري د نساجی فابریکی په تولیداتو ...

امارت د بنسټیزو پروګرامونو اساسی برخه ده . د پلخمری د افغان نساجی فابریکه هم ددغی دستګاه د چارواکو او کارګرانو د پرله پسی هلو ځلو له امله له بیا فعالیدو وروسته په نور مال دول کار او فعالیت دوام لری. د پلخمری د افغان نساجی د فابریکی رئیس محترم مولوی عبدالجبار حقانی وویل د پلخمری د افغان نساجی د فابریکی د جوړولو کار په ۱۳۱۵ هجری شمسی کال کی ددری پنځوس جریبه ځمکی په ساحه کی پیل او په ۱۳۲۱ هجری شمسی کال کی بشپړ او د همدی کال د دلوې په میاشت کی یی په فعالیت پیل وکړ . ددغی فابریکی مهم تولیدات د سان او تافتی ټوکران دی چی د روان هجری قمری کال په لومړی ځلورمه کی یی یو ملیونو ځلوینښت زره نهه سوه متره ټوکران تولید کړی دی.

ده وویل په دی فابریکه کی یو سلو شپږ نوی تنه فنی او اداری پرسونل او نهه سوه پنځه ویشت تنه تولیدی کارګران په کار او فعالیت بوخت دی. دغه فابریکه د اویلو یو زرو اوولس ماشینونه لری او دغه راز هغه پنځه ماشینونه چی له اتلسو کلونو را پدیخوا غیر فعال و د فنی پرسونل د هڅو او هاند له امله بیا فعال او ګتی اخستنی ته وړاندی شوی دی .

په پای کی د پلخمری د افغان نساجی د فابریکی رئیس د اسلامی امارت له همیشنی پاملرنی څخه چی د مالی بنسټ د پیاوړتیا اود تولید د سطحی د لوړولو په کار کی یی لری قدردانی وکړه د هیواد د ملی صنایعو د پراختیا او تولید د سطحی د لوړولو په لاره کی یې دغې فابریکی چمتو والی څرګند کړ.

په کامب دیوید کی ...

ګهون پرون دوام وکړ د رارسیدلو رپوټونو له مخی د کمپ دیوید خبری د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیری تر نظر لاندی د یل کلنتن په غیاب کی دوام لری. د امریکا د متحده ایالاتو د نوی طرحی په باب غیر رسمی خبرونه خپاره شوی دی د همدغو خبری سرچینو په وینا د اسرائیلو صدراعظم ایهود بارک د امریکا د متحده ایالاتو له نوی طرحی سره موافقه کړی ده . د امریکا د متحده ایالاتو د نوی طرحی له مخی ټاکل شوی ده د بیت المقدس د ښار ختیځه او عرب میشته برخه د فلسطینیانو او اسرائیلو له خوا په ګډه اداره شی. په کمپ دیوید کی د منځنی ختیځ د سولی په خبرو کی د اختلاف او لانجی وړ اصلی موضوع د بیت المقدس د ښار موقعیت دی.

په فلیپین کی ...

لیږدول شوی وو .

اوس هم د فلیپین په جنوب کی ازادی غوښتونکی چریکان ځلور دیرش تنه یرغمل چی د هغو په جمله کی دیارلس تنه اروپائیان شامل دی په واک کی لری.

نولس تنه روسی ...

دغه پیښه د سنت پترزبورګ ښار په هوایی ډګر کی هغه وخت را منځته شوه چی د روسیی پوځی هلیکوپتر له شپاړس تنو سپرلیو او دریو تنو عملی سره د راښکته کیدو په حال کی و . **ددغه هلیکوپتر د راغورځیدو د علت په باره کی څیړنی پیل شوی دی.**

در شهر شرن ...

ولايت پكتيكا از انرژي برق مستفيد گرديدند.

جنراتور متذكره كه ظرفيت توليدي دو صد كيلو وات برق را دارد توسط انجنيران و كاركنان مسلكي رياست آب و برق آن ولايت فعال گرديده و محترم مولوي عبدالروف خدام والي ولايت پكتيكا از زحمات انجنيران و كاركنان مسلكي آنرياست ابراز قدرداني نمود.

در اثر فعاليت جنراتور متذكره بخش از دواير امارتي و تعدادي از منازل و دكانها در شهر شرن از انرژي برق مستفيد گرديدند.

خشكسالي در مركز و ...

خشكسالي در افغانستان طي سه دهه گذشته بي سابقه ميباشد.

نامبرده در مورد اثرات خشكسالي در ايران گفت كه يك هيأت سازمان ملل متحد شامل يك كارشناس برنامه مواد غذايي و همچنان يك كارشناس سازمان جهاني زراعت براي ارزيابي اثرات خشكسالي هفته آينده عازم ايران خوانده شد.

قرار يك خبر ديگر مناطق شمالي جمهوري مردم چين نيز با مشكلات تامين آب آشاميدني و خشكسالي شديد مواجه گرديده است يك روز نامه چاپ هانگ كانگ در يك گزارش خود ديروز نوشت در برخي از شهر هاي ايالات شمالي چين دخاير آب صرف براي چند هفته ديگر كفايت ميكند.

اين روز نامه همچنان نوشت با وجود ريزش باران در ظرف چند روز گذشته در مناطق شمالي چين صرف مقادير ناچيز آب در ذخاير آب در آنكشور اضافه شده است قرغزستان نيز با خشكسالي شديد مواجه گرديده كه از اثر آن مزارع آنكشور متضرر شده است خشكسالي قرغزستان طي چهل سال گذشته بي سابقه خوانده شده است.

درولايت باميان ...

مصاحبه با خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر ابراز نموده گفتند : تنها در جريان سه ماه گذشته سالجاري پنجاه كيلو متر سرك هاي فرعي ترميم گرديده است. همچنان كار باز سازي عمارات امارتي آغاز گرديده و تا كنون شصت فيصد كار باز سازي و ترميماتي ادارات مربوط از بودجه امارت اسلامي تكميل گرديده و كار هاي باقي مانده نيز به شدت جريان دارد سهم گيري فعال مردم و همكاري موسسات خيريه در بخش اعمار و باز سازي موسسات عام المنفعه قابل ياد آوري است . محترم معاون ولايت باميان اضافه نمود : موسسه يونيسف و هبيتات در بخش آماده سازي اسكان مهاجرين ما را كمك نموده اند همچنان موسسه سوليدرتي نيز در اين عرصه مردم ما را كمك نموده است زيرا تعدادي زيادي از هموطنان باميان ما در اثر جنگ هاي ذات البيني خانه هاي شان ويران و مهاجر گرديدند و اكنون با اعاده صلح و آرامش آنها به وطن شان بر ميگردند.

در عرصه صحت عامه شفاخانه پنجاه بستر ولايت باميان مجدداً باز سازي و فعال گرديده است محترم معاون ولايت باميان افزود همين اكنون در ولايت باميان ۱۴۰ باب مدرسه ديني و عصري وجود دارد كه مجموعاً شصت و پنج هزار طالب العلم در آن مصروف آموزش اند كه امور تدريس آنها توسط نه صدو شصت استاد پيشبرده ميشود

روسي ، تاجكي او ...

ورغ پنجشیر ته رسیدلی دی .

دغه هیأت چی په ترکیب کی یی روسی تاجکستانی او ایرانی اتباع شامل دی د سه شنبی په ورځ د یوه هلیکوپتر په سپرلی پنجشیر ته ورسید چی د اسلامی امارت له مخالفینو سره د پوځی لوژستیکی او مالی مرستو په تنظیمولو او چټکتیا پوری اړوندی مسئلی وڅیړی .

د باوری خبرځایونو د خبر له مخی دغه هیأت په پرمختللو وسلو د اسلامی امارت د مخالفینو د سمبالولو مسئلی هم څیړی .

د رارسیدلو خبرونو له مخی د مخالفینو د ډلو مشرانو په اندراب کی خپلو ټولو اړوندو افرادو ته ویلی چی دغه هیأت ټولی پوستی ګوری او تاسی د هغوی د راتګ په وخت کی خپلی ټولی ستونزی او اړتیاوی ورسره طرحه کړی.

دغه هیأت په پام کی لری چی د اسلامی امارت ځخالفینو تر کنترول لاندی ټولی سیمی وګوری.

د افغانستان اسلامی امارت په وار وار په افغانستان کی د جګړی او وینو تویدو د دوام اصلی عامل د پردیو څرګندی او پټ‌داګه لاس وهنی بللی دی او ټینګار یی کړی چی په افغانستان کی به اوسنی ستونزی او مشکلات یوازی هغه وخت حل شی چی پردی له مخالفینو سره له سیاسی او پوځی ملاتړ څخه لاس واخلی.

ددغه هیات سفر د ټولو نړیوالو موازینو پر خلاف کیږی او زمونږ د هیواد په چارو کی ددغو هیوادونو څرګندی لاس وهنی ښیی.

د افغانستان خلک به په دغو ټولو ستونزو او مشکلاتو باندی بریالی شی او زمونږ د ملت دښمنان به خجالت او سرټیټی شی.

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press